تاسو بايد په امريکا کې د کار په ځای کې د خپلو حقونو په اړه په څه شي پوه شئ؟



تاسو په کار ځای کې حقونه لرئ. هغه قوانين زده کړئ چې ستاسو ساتنه کوي او دا پوهه درکوي چې څنګه ناوړه استفاده يا استحصال وپېژنئ.

زما حقونه کوم دي؟

- تاسو بايد په هغه ايالت کې چې کار کوئ **لږ تر لږه قانوني معاش** ترلاسه کړئ په ډېرو ايالتونو کې لږ تر لږه معاش د فدرالي حکومت لږ تر لږه معاش (په ساعت کې 7.25 ډالر) څخه لوړ دی

- که تاسو په اونۍ کې له 40 ساعتونو زيات کار کوئ، نو کار ورکوونکی بايد د **اضافي وخت** پيسې درکړي. د دې مطلب دا دی چې له 40 ساعتونو زيات کار په هر ساعت کې، کار ورکوونکی بايد تاسو ته د اصلي مزدوري يو نيم برابره پيسې درکړي.

- فدرالي قوانين دا هم غواړي چې کار ورکوونکی تاسو ته د کار **خوندي او بې خطره** چاپېريال جوړ کړي.

- **د ځوانانو ساتنه:** تر 18 کلونو کم عمره ځوانان د خطرناکو کارونو اجازه نه لري، لکه په کانونو کې کار، د درنو ماشينونو کارول، پر چتونو برسېره کار کول، يا د موټرو چلول. داسې قوانين هم شته چې د ځوانانو کاري ساعتونه را محدودوي.

د کار جواز اخيستل



- په امريکا کې د کډوالو او د ORR وړ ځوانانو لپاره پر دې پوهېدل مهم دي چې **تاسو يوازې هغه وخت کار کولی شئ چې قانوني اجازه ولرئ**. که تاسو تر اوسه د کار اجازه نه وي اخيستې، نو تر هغې قانوني کار نه شئ کولی تر څو چې مو ترلاسه کړې نه وي.

- ښه به دا وي چې د **کډوالۍ له يوه وکيل سره خبرې وکړئ**، چې په امريکا کې د کار اجازې اخيستلو په اړه معلومات درکړي.

- بې اجازې کار کول **جدي خطرونه** لري:
  - دغه چاره د کډوالۍ له چارواکو سره يا مو قانوني قضيې په برخه کې ستونزه رامنځته کولی شي.
  - له قانوني اجازې پرته کار کول د دې سبب کېږي چې مالکان درسره بد خوی يا زياتی وکړي او يا درنه ناجايزه ګټه واخلي.

د کارګرانو د ناوړه ګټې اخیستنې او ظلم لس خبرداري نښې



1. که کار ورکوونکی درته د خپل ایالت اصغري مزدوري نه درکوي.
2. که تاسو په اونۍ کې له 40 ساعتونو زیات کار کوئ او مالکان درته د اضافي وخت پیسې نه درکوي.
3. که کار ورکوونکی د کار پر وخت د ډوډۍ یا تشناب لپاره وخت نه درکوي.
4. که کار ورکوونکی درته د رخصتۍ اجازه نه درکوي کله چې
5. که کار ورکوونکی درته ګوابنونه کوي چې که رخصتي واخلئ، نو له کاره به مو وباسي؛
6. که مو کار ورکوونکی هویتي اسناد (لکه پاسپورټ، د کار جواز او ټولنیز امنیت کارت) له ځان سره لري او تاسو ته د هغې د کارولو اجازه نه درکوي؛
7. که ستاسو کار ورکوونکی ستاسو له معاش څخه د کور کرایه، نور لګښتونه، یا پور ورکولو لپاره پیسې اخلي؛
8. که مو کار ورکوونکی له دې امله درته د پولیسو یا کډوالۍ ګوابنونه درکوي چې تاسو قانوني اجازه نه لرئ؛
9. که تاسو کار ونه کړئ نو کار ورکوونکی مو تاسو یا مو کورنۍ ته زیان رسوي یا یې د رسولو ګوابنونه درکوي؛
10. که تاسو د زیان له وېرې ځان کار ته اړ ګڼئ.



که داسې حالاتو کې یئ، نو د باور مشران، قضیې کارکوونکي، یا وکیل سره خبره وکړئ. تاسو د مرستې، معلوماتو، خپلو حقونو، او ګټو په اړه د پوهېدو او د وسایلو کارولو لپاره لاندې شمېرې ته زنګ وهلی شئ:

د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې ملي هاټلاین (National Human Trafficking Hotline)

1-888-373-7888

refugees.org

The production of this material was supported by Grant #90RB0054 from the Administration for Children and Families (ACF). Its contents are solely the responsibility of the U.S. Committee for Refugees and Immigrants (USCRI) and do not necessarily represent the official views of ACF.

U.S. COMMITTEE FOR REFUGEES AND IMMIGRANTS